# څراغونه او د پولیسو اخطاریه

## تاسو باید څه وکړي کله چی پولیسو ودرولی



# بیړني موتر (پولیس،اور وژونکی او امبولانس) په سړکونو کي لومړیتوب لري (همدارنګه د لاری حق یا حق العبور په نوم هم یادیږی)



- کله چی د بیړنی موتر خراغ  او اخطاریز ژغ روښانه وي، تاسو باید هر څومره چی کولی شی ښي خوا ته لاړ شی، په چټکۍ او خوندي توګه، او په تمه شی تر هغه چې بیړنی موټر له تاسو څخه تیر شی.



- بیړنی موتر له ډیر نږدی شا څخه مه تعقیب کوی
- ښي لوری ته حرکت وکړی که څه هم بیړني موټر له مخالف لوري څخه روان وی



- که چیرې یو بیړنی موټر د سړک په هر ځای کې د پیښې د مرسته لپاره موجود وی، نو تاسو باید خپل د موټر سرعت کم کړی او دوی ته په خوندي توګه د کار کولو لپاره ځای ورکړی.

# کله چی تاسو د یو پولیس له طرفه ودرول شوی

- کله چی د پولیس د موټر څراغونه او اخطاریز ږغ یی روښانه وی نو تاسي باید سړک یو څنډی ته توقف وکړي.
- د پولیسو موټرونه ټول تور او سپین رنګ نه لری
- مه وېرېږي، کیدای شی تاسو یی د یو ساده خبری لپاره درولی یاست، لکه ستاسی د موټر مات شوي څراغ



# موټر څنډه ته کړی



د موټر څنډه ته کولو لپاره خوندي ځای غوره کړی، دا سمه ده چې تاسو لږ واټن مخ ته لاړ شئ ترڅو نور ترافیک بند نکړی او پولیس په خوندي توګه تاسو ته دنږدی کیدلو لپاره ځای ولري.

د خپل موټر د تاویدلو یا د بیړنی حالت څراغونه روښانه کړی ترڅو پولیس پوه شی چی تاسو د دریدلو موخه لری او د تیښتی هڅه نکوی.

# چمتوالی



- د موټر ماشین بند کړی او خپل لاسونه د موټر په سټیرینګ کې وساتی.

کله چی پولس ستاسو لاسونه د موټر په سټیرینګ وګوری، د دوی اندیښنه به لری شی چی تاسو کوم غلط کار نه ترسره کوی. او که چیری تاسو کوم څه ته لاس یوسی ممکن پولس تاسو له د کار څخه غلط تعبیر ورکړی.

- تر هغه چی تاسو ته پولیس نه یی ویلی د خپل موټر دروازه مه خلاصوی

- کله چی پولیس ستاسی خوا ته نږدی شو د خپل موټر کړکۍ ورته ښکته کړی، که چیری ستاسو د موټر کړکۍ ماته وي تاسو باید پولیس په روښانه ډول  پوه کړي چی ستاسو د موټر کړکی ماته ده.


# مودب اوسیږی

- کله چی پولیس ودرولی، تاسو د قانون له مخې اړ یاست چې خپل لایسنس، د موټر د ثبت اسناد او د بیمه  ثبوت پولیس ته شکاره کړئ.

- صادق اوسی او د وضاحت غوښتنه وکړی که چیرې کوم څه تاسو ته ناځرګنده وه.


- پولیس ته عذر او یا هم له هغه سره بحث مه کوئ، که تاسو د ټکټ سره موافق نه یاست تاسو به وروسته فرصت ولرئ چې په محکمه کې خپل توضیحات بیان کړئ. د تکت منل پدې معنی ندي چې تاسو حتمی مجرم یاست.





# خلاصه که تاسو پولیس ودرولی:

- د سړک یوی څنډی کښی توقف وکړی
- چمتوالی ولری
- مودب اوسي



دا لارښود تاسو ته

د افغان ګټو سازمان

Afghan Advantage

سازمان منفعت افغان

لخوا چمتو او وړاندی شو